جمعية خدمة المحتوى
الإسلامي باللغات

منهج الصف الأول الابتدائي، التوحيد والفقه

بشتو | پښتو

عنوان:

درسي نصاب، لومړی ټولګی توحید او فقه




بسم الله الرحمن الرحيم

لنډه کتنه:

دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کوونکو لپاره مختصر شوی تعليمي نصاب دی چې په ببلابېلو سويو ويشل شوی، سربيره پر دې دا يو مضمون دی چې د توحيد د زده کړې تدريس ته ځانګړی شوی او په دولسو مرحلو (سويو) ويشل کيږي. له خورا اړينو موضوعاتو څخه چې په لومړۍ سويه کې راغلي يوه يې هغه ده چې په هر انسان يې پېژندل واجب دي لکه:

- په نښانو، مخلوقاتو او حيرانونکي قدرت سره د الله تعالى پېژندل او دا چې هغه رب، خالق او روزي ورکوونکی دی چې يوازې د عبادت وړ دی او له هغه پرته يې بل څوک وړ نشته.
- د پېغمبر محمد صلى الله عليه وسلم پېژندل.
- په دلايلو سره د اسلامي دين پېژندل.

لومړۍ سويه

سريزه

الحمد لله الذي علَّم بِالقَلَمِ، علَّم الإنسانَ ما لم يَعْلَم، والصَّلاة والسَّلام على النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الكريم الذي بعثَه اللهُ لِيُخرِجَ النّاسَ مِن الظُّلمات إلى النُّور، أمّا بعد:

د الله جل جلاله توحيد هغه واجب دی چې تر ټولو واجباتو پرې زيات ټينګار شوی او پرې پوهېدل تر ټولو عزتمند او غوره علم دی، دا هغه بنسټ دی چې د عملونو صحت او قبليدل پرې بنا دي، او بندګان ورته تر هر څه زياته اړتيا لري؛ ځکه چې د زړونو لپاره لدې پرته هيڅ ژوند، خوشحالي او سکون نشته، پرته له دې چې خپل رب د هغه په نومونو، صفتونو او افعالو سره وپيژني. او لکه څرنګه چې په دين کې پوهه تر لاسه کول، او د عبادتونو د ادا کولو څرنګوالی لکه: طهارت، لمونځ او لدې دواړو پرته نورد نيکبختۍ علامې او د دې خبرې نښه ده چې الله تعالی خپل دې بنده ته د خپر اراده کړې ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

« مَن يُرِد الله به خيراً يُفَقِّهه في الدِّين».

"د چا لپاره چې الله تعالی د خپر اراده وکړي، هغه ته به په دين کې پوهه ورکوي"[1].

د همدې پر بنسټ د ټولنو د پوهاوي بنسټ د توحيد د مضمون په تدريس ټينګار کوي، تر څو زده کوونکي په سمه عقيده وروزل شي، فقهي احکام ورزده کړي او په مشروع ډول عبادتونه ادا کړي او په ديني چارو کې روښنايي او بصيرت ولري.

او د توحيد د مضمون پدې سويه کې: زده کونکي د خپل دين اساسات د دريو شيانو په پوهيدو سره زده کوي:

١- د خپل رب پېژندنه ٢- د خپل دين پېژندنه ٣- د خپل نبي پېژندنه.

او د مضمون ماهيت ته په ليدو د هر لوست لپاره په لنډه او واضحه توګه ځانګړې موخې ابښودل شوي، په موضوعاتو کې يې تدريج په پام کې نيول شوی او د هر لوست لپاره پوښتنې او د ښوونکي لپاره لارښوونې شتون لري چې په رښا کې يې تاکل شوې موخې تر لاسه شي.

[1] بخاري په (٧) شمېره رو ايت کړی دی.

ښوونکي ته لارښوونې:

۱ - الله تعالی ته اخلاص د عمل د قبلیدو شرط دی، نو عمل دې خاص د پاک الله لپاره وګرځوه چې په دنیا او اخرت کې پې ګټه وویني.

۲- امانت ساتل د خلاصون لاره ده - ښوونکی وروره - ته د اسلام له پولو څخه په یوه پوله ولاړیې، او د مسلمانانو د اولادونو په ذهنیتونو او فطرت امانتداریې، نو د امانت ساتنه وکړه چې په دنیا او اخرت کې کامیاب شې.

3- د توحید د مضمون زده کړه له غوره عملونو څخه ده، نو له دې پرته د بندګانو لپاره سمونتیا نه شته او نه د دنیا له خواری او د آخرت له عذاب څخه د توحید له پېژندنې پرته خلاصون شته، نو د زده کوونکو په نفسونو کې د سمې عقیدې په کښت کې زیار وباسه، ریښتینی ترجمان او د هغه څه لپاره ژوندی بیلګه اوسه چې بلنه ورته کوې.

۴- د الله تعالی د وحدانیت او د هغه د قدرت د بیانولو لپاره له حالاتو ګټه پورته کړه، (د بیلګې په توګه) کله چې وربځې د اسمان په زړه راخپرې شي، بریښناګانې وپرقیږي او غراری شي، باران اونه واوریږي او داسې نورې پېښې په مسلمانانو کې د ایماني خوځښت لپاره غنیمت وګڼه.

۵- د متلونو په ورکولو سره د موضوع اسانه کول او لوست ته له و اقعیت سره تړاو ورکول له مضمون سره د زده کوونکو د مینې په پیدا کولو کې ستررول لري، چې بیا یې زده کوي او عمل پرې کوي، او په پای کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې وینا سره زیری درکوو چې فرمایي: « إنّ ممّا یلحَق المؤمِن مِن عَمَلِهِ وحَسَناته بعد مَوْتِه عِلْماً علَّمَه ونَشَره » .

«د مؤمنانو له عملونو او نیکیو څخه چې کوم شی له مرګ نه وروسته هغه ته رسیږي؛ هغه علم دی چې زده کړی او خپور کړی یې دی».

۲- ابن ماجه رو ایت کړی دی (242).

لومړی لوست (۴)[3]

هغه څه چې پر انسان يې پېژندل واجب دي[4]

رب دې څوک دی؟

رب مې الله دی.


دین دې څه شی دی؟

دین مې اسلام دی.

پیغمبر دې څوک دی؟

پیغمبر مې محمد صلی الله علیه وسلم دی.

۳- د لوست موخې:
- زده کوونکی هغه څه بیان کړی شي چې په هر انسان يې پېژندل واجب دي.
- زده کوونکی د اسلام پر دین وویاړي.



* زه سبا او بیګا دا نبوي ذکر درې ځلې په ټینګه و ایم:

(رَضِيت بِالله ربّاً، وبالإسلامِ دِيناً، وبمحمَّدٍ صلى الله عليه وسلم نَبِيّاً).

په الله د رب، په اسلام د دین او په محمد صلى الله عليه وسلم د پېغمبر په توګه راضي يم.

پوښتنې:

س ۱ : تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

رب مې ..... دین مې .....

پېغمبر مې .....

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: (ما مِن عَبْدٍ يقول حين يُمسي وحين يُصبح : رَضِيت بالله ربّاً، وبالإسلام دِيناً، وبمحمَّد صلى الله عليه وسلم نَبِيّاً ثلاثَ مَرّاتٍ إلّا كان حَقّاً على الله أن يرضيه يوم القيامة).
«هيڅ يو مسلمان سبا او بيګا مهال دا وينا درې ځلې نه و ايي چې: په الله د رب، په اسلام د دين او په محمد صلى الله عليه وسلم د پېغمبر په توګه راضي يم. مګر دا چې په الله جل جلاله حق دی چې د قيامت په ورځ يې راضي کړي»، احمد په مسند کې رو ايت کړی دی (٤/٣٣٧).

- پر خلکو د الله تعالى د مهربانۍ بيان چې دوی يې له هيڅ نه پيدا کړل، له پاکيزه خيزونو يې روزي ورکړه چې پر مټ يې د هغه سپيڅلي ذات عبادت وکړي.
- پر بندګانو د الله تعالى لوړينه چې خپل پېغمبر؛ محمد صلى الله عليه وسلم يې ورته لېږلی دی، نو چا يې چې پيروي وکړه په دنيا او اخرت کې کامياب شو.
- د اسلام د عظمت بيان؛ هغه دين چې الله تعالى د خپلو بندګانو لپاره خوښ کړی دی، الله تعالى فرمايلي: (الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَ أَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا) [المائدة: ٣]. «نن ورځ ما ستاسو لپاره ستاسو دين مکمل کړ او پرتاسو مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما ستاسو لپاره اسلام د دين په توګه خوښ کړ».

دويم لوست (۶)[5]

رب مې الله دی (۷)[6]



رب دې څوک دی ؟
رب مې الله دی.

الله چېرته دی ؟
الله په اسمان کې دی.

چا پیدا کړی يې او په خپلو نعمتونو سره يې ستا روزنه کړې ده؟
الله جل جلاله هغه ذات دی چې زه يې پیدا کړی يم او په خپلو نعمتونو سره يې زما روزنه کړې ده.

۵- د لوست موخې: - زده کوونکی الله پاک په لویی سره ومني. - زده کوونکی پر مخلوقاتو د الله تعالی پورته والی بیان کړي.
- زده کوونکی پر مخلوقاتو د الله تعالی د ځینو نعمتونو یادونه وکړي.

٦- ښوونکي ته:
- د هغې ویناې حدیث ته اشاره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې پوښتنه وکړه چې (الله چېرته دی؟ هغې وویل چې: په اسمان کې... مسلم په ٥٣٠٧ شمیره رو ایت کړی.
- د دې عبارت د معنا تشریح چې "رَبّاني بِنِعَمِه " یعنې په خپلو نعمتونو سره يې زما روزنه کړې ده چې مراد ترې په ښکاره او پټو نعمتونو سره روزي راکول دي، له ښکاره نعمتونو څخه يې د امنیت، روغتیا او سلامتیا او له پټو نعمتونو څخه يې د ایمان او هدایت لوړینه ده.
- د زده کوونکو په زړونو کې د الله تعالی په لویی باور پیدا کول.



پوښتنې:

رب دې څوک دی؟

الله چیرته دی؟

چا پیدا کړی یې او چا په خپلو
نعمتونو سره ستا روزنه کړې ده؟

څلورم لوست [7] (۱۰)

الله پیدا کوونکی دی (۱۱) [8]

الله هغه ذات دی چې زه او ټول خلک يې پيدا کړي دي.

الله هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي.

الله هغه ذات دی چې شپه اوورځ، لمر او سپوږمۍ يې پيدا کړي دي.

۷- د لوست موخې:
- زده کوونکي د الله تعالی په مخلوقاتو کې فکروکړي او لويې يې را په زړه کړي.
- زده کوونکی باید په خلکو باندې د الله تعالی فضل او مهرباني بيان کړي چې دوی يې د نشت نه پيداکړي.
۸- شووني ته:
- د دې خبرې وضاحت چې د مخلوقاتو عظمت يې د پيدا کوونکي په عظمت دليل دی او دا چې هغه د عبادت وړ دی.
- غوره ده چې دا لوست له ټولګي نه د باندې تشريح شي: تر څو زده کوونکي د الله تعالی د مخلوقاتو په لوی والي کې فکروکړي لکه: آسمان، ځمکه او وني.
- د زده کوونکو په مرسته د الله تعالی د مخلوقاتو نورې بيلګې بيانول.
- د الله تعالی په مخلوقاتو کې فکر کولو ته د زده کوونکو هڅول، چې لويې يې را په زړه کړي.



پوښتنې:

تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

- ..... دی چې مخلوقات يې پيدا کړي دي
- .....هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي.
- ..... هغه ذات دی چې لمر او سپوږمۍ يې پيدا کړي دي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې: (ما مِن عَبْدٍ يقول حين يُمسي وحين يُصبح : رَضِيت بِالله ربّاً، وبالإسلام دِيناً، وبمحمّد صلى الله عليه وسلم نَبِيّاً ثلاثَ مَرّاتٍ إلّا كان حَقّاً على الله أن يرضيه يوم القيامة).
«هيڅ يو مسلمان سبا او بيګا مهال دا وينا دري ځلې نه و ايي چې: په الله د رب، په اسلام د دين او په محمد صلى الله عليه وسلم د پېغمبر په توګه راضي يم، مګر دا چې په الله جل جلاله حق دی چې د قيامت په ورځ يې راضي کړي»، احمد په مسند کې رو ايت کړی دی (٤/٣٣٧)

.پر خلکو د الله تعالى د مهربانۍ بيان چې دوی يې له هيڅ نه پيدا کړل، له پاکيزه ځيزونو يې روزي ورکړه چې پر مټ يې د هغه سپيڅلي ذات عبادت وکړي -

.پر بندګانو د الله تعالى لوړينه چې خپل پېغمبر؛ محمد صلى الله عليه وسلم يې ورته لېږلی دی، نو چا يې چې پيروي وکړه په دنيا او اخرت کې کامياب شو -

د اسلام د عظمت بيان؛ هغه دين چې الله تعالى د خپلو بندګانو لپاره خوښ کړی دی، الله تعالى فرمايلي: (الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَ أَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا) [المائدة: ٣]. «نن ورځ ما ستاسو - .«لپاره ستاسو دين مکمل کړ او پر تاسو مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما ستاسو لپاره اسلام د دين په توګه خوښ کړ

الله پيدا كوونكى دى (١٣)[9]

الله هغه ذات دى چې غرونه، دريابونه او ونې يې پيدا كړي دي، الله تعالى فرمايلي:

﴿ اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴾

(الله د هر شي پيدا كوونكى دى او هغه په هر شي باندې نګران دى)

[الزمر سورت: ٦٢ آيت].

نو پر ما فرض دي چې يوازې د هغه الله عبادت وكړم چې هر څه يې پيدا كړي دي.

٩- د لوست موخې:
- چې زده كوونكى د الله تعالى د ځينو مخلوقاتو يادونه وكړي.
- زده كوونكى په دې دليل وو ايې چې الله تعالى هر څه پيدا كړي دي.
- زده كوونكى د الله تعالى په مخلوقاتو كې فكر وكړي.

پوښتنې:

س ۱:د الله تعالی درې ډوله مخلوقات وشمېره.

س۲: الله تعالی د هرشي پیدا کوونکی دی.
پدې خبره دلیل څه شی دی؟

س ۳: الله تعالی فرمایلي:

﴿ هُوَ الَّذِی جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً وَالْقَمَرَ نُورًا﴾

(دغه الله دی چې لمرې تېز ځلېدونکی او سپوږمۍ يې روښانه کړځولي).

[یونس سورت: 5 آیت].

لاندی تش ځایونه ډک کړه:

د لمرله کتو څخه .....

او د سپوږمۍ له کتو څخه .....

د توحید نصاب:

مخ	موضوع
	لومړی لوست: هغه څه چې پر انسان پې پژندل واجب دي
	دویم لوست: رب مې الله دی
	دریم لوست: د رب پژندل
	څلورم لوست: الله پیدا کوونکی دی
	پنځم لوست: د الله په مخلوقاتو کې د هغه د قدرت له معجزو څخه
	شپږم لوست: الله روزی ورکوونکی دی
	اووم لوست: د خپل رب الله عبادت کوم
	اتم لوست: دین مې اسلام دی
	نهم لوست: پیغمبر مې محمد صلی الله علیه وسلم دی
	لسم لوست: قرآن کریم

دریم لوست (8)[10]

د رب پېژندل (9)[11]

زه خپل رب د هغه (د قدرت) په نښانو او مخلوقاتو سره پېژنم، د هغه د (قدرت) له نښانو څخه شپه اوورځ ده اوله مخلوقاتو څخه يې آسمانونه او ځمکې دي. الله هغه ذات دی چې زه يې ژوندی کړی يم، بيا مرګ راکوي او د هغه لورې ته بيا راپاڅېدل دي.

پوښتنې:

س۱: خپل رب دې په څه پېژنې؟

س۲: چا ژوندی کړی يې او بيا دې مړ کوي؟

۱۰- د لوست موخې:
- چې زده کوونکی د الله تعالی ځينې معجزې او مخلوقات زده کړي.
- زده کوونکی د الله تعالی (د قدرت) په نښانو او مخلوقاتو کې فکر وکړي.
- زده کوونکی دا بيان کړی شي چې الله تعالی ټول مخلوقات له مرګ نه وروسته د حساب او بدلې لپاره راژوندي کوي.

۱۱- ښوونکې ته:
د الله تعالی د کارونو نورې بېلګې بيانول لکه: باران ورول، بوټی زرغونول، د دعا قبلول او د غمونو لرې کول.
- د الله تعالی (د قدرت) په نښانو او مخلوقاتو کې زده کوونکي فکر کولو ته هڅول.
- د النشور معنی له مرګ نه وروسته د حساب او جزا لپاره راژوندي کول ده.
- په زده کوونکو کې په بيا راژوندي کيدلو باور پيدا کول.

پنځم لوست: (14)[12]

په مخلوقاتو کې د الله تعالى د قدرت له عجايبو څخه (15)[13]

الله تعالى فرمايلي:

﴿رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾

(اې زمونږه ربه! تا دا عبث نه دي پيدا کړي، تا لره پاکي ده، نو ته مونږ (د جهنم) له اور نه وژغوره). [آل عمران سورت: 191] آيت.



دا څومره د حيرانتيا خبره ده چې د الله نافرماني کيږي او منکر انسان څنګه له هغه نه انکار کوي؟

او په هر شي کې د هغه (د قدرت) يوه نښه شته چې د هغه يووالى څرګندوي.

۱۲- د لوست موخې:
- زده کونکى باېد د الله تعالى په مخلوقاتو کې د عظمت اړخونه تشريح کړي. - چې زده کونکى د الله تعالى (د قدرت په نښو) او د هغه په مخلوقاتو کې فکروکړي.
۱۳- ښوونکي ته!
زده کوونکو ته په دې مخلوقاتو کې د عظمت اړخونه په داسې ډول تشريح کول چې له ذهني سويې سره يې بر ابر وي.
- دا خبره تشريح کول چې د الله تعالى (د قدرت) په نښانو کې فکر کول د مسلمان ايمان زياتوي او خپل رب پېژني، مينه يې ورسره پيدا کيږي او د هغه عظمت يې وړپه زړه کيږي.
- په کار ده چې ښوونکى زده کوونکي و هڅوي ترڅو په خپل چاپېريال کې د الله تعالى په مخلوقاتو کې فکروکړي او انسانانو او نورو مخلوقاتو ته يې ګټې وښيي.

شپږم لوست (16)[14]

الله روزي ورکوونکی (رزاق) دی (17)[15]

الله هغه ذات دی چې له آسمان څخه باران وروي.

الله هغه ذات دی چې مونږ ته خوراک او څښاک راکوي.

الله هغه ذات دی چې مونږ ته يې (د اوريدلو او ليدلو وسايل) راکړي دي.

پوښتنې:

س۱: څوک مونږ ته خواړه او څښاک راکوي؟

س۲: لاندې تش ځايونه ډک کړئ:

- د سترګو له نعمت څخه په .....ګټه اخلم.
- د اوريدلو له نعمت څخه په .....ګټه اخلم.

۱۴- د لوست موخې:
- چې زده کوونکی د الله تعالی خپل نعمتونه را یاد کړي.
- چې زده کوونکی د الله په نعمتونو د هغه شکر وباسي.

۱۵- شووني ته!
د باران د کتو یادونه: د اوبو ساتلو ته د پاملرنې ارتیا چې ضایع نه شي او له اسراف څخه يې په کارولو کې ډډه وشي.
- دې خبرې ته پاملرنه چې په تاکل شوي ځای کې د پاتې شوو خواړو ځای پر ځای کول پر نعمتونو شکر کول دي او په نعمتونو شکر کول يې د زياتيدا لامل ګرځي.
الله تعالی فرمايلي دي: (لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ) [إبراهيم: 7]. (که شکر وباسئ نوزه به يې خامخا درزيات کړم) [ابراهيم: ۷]
- دې خبرې ته د زده کوونکو پام راړول چې الله تعالی مونږ ته لوی نعمتونه راکړي لکه: د خوراک او څښاک توکي، اوريدل او ليدل، تر څو پرې د هغه د پروی لپاره پياوړي شو.

اووم لوست (20)[16]

د خپل رب الله عبادت کوم (۲۱)[17]

- زه مسلمان يم يوازې د الله عبادت کوم، او له هغه سره د بل څه عبادت نه کوم.
- زه مسلمان يم، د الله سره مينه لرم او اطاعت يې کوم.
- زه مسلمان يم، د الله څخه ويريږم او نافرماني يې نه کوم.
- زه مسلمان يم يوازې الله رابلم او له هغه سره بل څوک نه رابلم.



١٦- د لوست موخې:
- چې زده کوونکی يوازې د الله عبادت وکړي، او له هغه سره له هغه پرته د بل چا عبادت ونه کړي.
- زده کونکی باېد د عبادت ځېنې ډولونه بيان کړي
- له هغو کناهونو څخه ځان وساتي چې الله جل جلاله پرې غصه کېږي.
- په خپل دين وويارې.
١٧- ښوونکې ته:
- د دې خبرې وضاحت چې الله جل جلاله خالق، رازق، ژوندی کوونکی او مرګ ورکوونکی دی، نو هغه ذات يوازې د عبادت ور دی.
- د عبادت ځينې ډولونه ذکر کول لکه: لمونځ، روژه، دعا، ذبحه (حلالول) او همداسې نور.
- زده کوونکې نيکيو ته ترغيبول.
- د هغه وينا او کار څخه ځان ساتل چې الله تعالی پرې غصه کېږي.



پوښتنې:

س۱: مور يوازې د چا عبادت کوو؟

س۲: تش ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:
جنت، لمونځ، قرآن، الله جل جلاله

- مسلمان يوازې .....رابلي.
- مسلمان په کلکه .....ادا کوي.
- مسلمان د ..... زيات تلاوت کوي چې الله له ځان څخه راضي کړي، او ..... پرې ننوځي.

اتم لوست (۲۲)[18]

زه مسلمان يم، دين مې اسلام دى (۲۳)[19]

الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ﴾

(بېشكه چې د الله په وړاندې (معتبر) دين اسلام دى).

[آل عمران سورت: ۹۱] آيت.



اسلام: په توحيد سره الله ته تسليميدل، د اطاعت له لارې هغه ته غاړه ايښودل او له شرک او مشرکانو بې زاره کېدل دي.

۱۸- د لوست موخې:
- چې زده کوونکى د اسلام معنا واضحه کړي.
- له شرک او مشرکانو ډډه وکړي.
- د مسلمانانو سره مينه ولري.

۱۹- ښوونکې ته:
- د اسلام معنا تشريح کول.
- د اسلام د خانګړتياوو د يادونې له لارې د زده کوونکو په زړونو کې د دې لوى دين محبت ته خاى ورکول.
- د دې خبرې وضاحت چې په اسلام منګولې لکول د جنت د کتلو او له اورڅخه د خلاصون يوازينى لار ده.
- د دې خبرې وضاحت چې د مسلمانانو سره مينه او له کافرو څخه کرکه کول او د هغوى سره له مشابهت څخه ډډه کول له اسلام څخه دي.





پوښتنې:

د لومړي کالم جملې د دويم کالم له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

اسلام :

الله جل جلاله ته تسليميدل	له شرک او مشرکانو څخه
هغه ته غاړه ايښودل	په توحيد سره
او بې زاري	په اطاعت سره.

نهم لوست (۶۲)[20]

نبي مې محمد -ﷺ- دی (۲۷)[21]

نبي مې محمد بن عبد الله بن عبد المطلب دی.

الله جل جلاله ټولو خلکو ته لیږلی دی

الله تعالی رالیږلی دی چې هغوی د یو الله عبادت ته راوبلي او له هغه پرته د نورو عبادت پریږدي.



۲۰- د لوست موخې:
- چې زده کوونکی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نسب یاد کړي.
- په دې پوهه چې الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولو خلکو ته لیږلی دی.
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رالیږلو حکمت بیان کړي.

۲۱- ښوونکي ته!
- الله جل جلاله محمد صلی الله علیه وسلم د خپل رحمت له مخې ټولو خلکو ته لیږلی چې یوازې د هغه عبادت ته یې راوبلي.
- د دې خبرې وضاحت چې د محمد صلی الله علیه وسلم د محبت څخه د هغه تابعداري او د هغه پیروي لازمیږي.
- د الله تعالی څخه پرته د بل چا د عبادت څخه ځان ساتل.
- د محمد صلی الله علیه وسلم د نوم یادولو په وخت کې په هغه باندې د درود وېلو ټینګار.
- په تربیتي او مناسبه طریقه باندې په عام الفیل کې د محمد صلی الله علیه وسلم د زیږدنې قصه بیانول.





پوښتنې:

- زما د پيغمبر نوم.....دی
- الله جل جلاله ټولو.....ته لیږلی دی.
- الله د دې لپاره لیږلی چې خلک یوازې د .....عبادت ته راوبلی او له هغه پرته د .....شیانو عبادت پریږدي.

لسم لوست (۳۰)[22]

قرآن کریم (۳۱)[23]

قرآن کریم د الله تعالی کلام دی.

پر ما واجب دي چې مینه ورسره ولرم، ویې لولم او عمل پرې وکړم.

زه آیت الکرسي حفظوم، او د هرلمانځه نه وروسته اوله ویده کېدو نه مخکې یې لولم.



۲۲- د لوست موخې:

- زده کوونکی باید دا روښانه کړي چې قرآن کریم د الله تعالی کلام دی.
- زده کونکی باید د قران کریم احترام وکړي.
- زده کونکی باید په قران کریم کې د ذکر شوو احکامو پیروي وکړي.
- زده کونکی باید په قران کریم کې له ذکر شویو ممانعتونو ډډه وکړي.

۲۳- ښوونکي ته!

- د زده کوونکو د ذهني سویې سره په مناسبو اسلوبو د حرا په غار کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم د قرآن کریم د نازلیدو کیسه
- په زده کوونکو کې د قرآن کریم سره مینه پیدا کول.
- د اجر او ثواب له امله د قرآن کریم لوستلو او حفظولو ته هڅول، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (خَيْرُكُم مَن تَعَلَّم القُرآنَ وعَلَّمَه) بخاري په (۵۰۲۷) شمیره رو ایت کړی دی. یعنې (په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې قرآن زده کړي او نورو ته یې وښایي). او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (مَن قَرأ حَرفاً مِن كِتابِ الله فَلَهُ بِه حَسَنَة، والحسَنَةُ بِعَشْرِ أمثالِها، لا أقول (ألم) حرف، ولكن ألِفٌ حَرف، ولام حَرف، ومِيم حَرف) څوک چې د الله د کتاب یو حرف ولولي د هغه لپاره یوه نیکي ده او یو نیک عمل په لس چنده دی، زه نه وایم چې (الم) یو حرف دی، بلکې الف حرف دی، لام حرف دی او میم حرف دی. ترمذی په (۲۹۱۰) شمیره رو ایت کړی دی.
- د قران کریم احترام او درناوي ته (د زده کوونکو) متوجې کول، او د لوستلو په وخت یې د الله تعالی د دې ایت (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَ أَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ) [الأعراف: 204]. (او کله چې قرآن لوستل کېږي، نو تاسو هغه په غور سره اوریئ او خاموشه اوسئ، د دې لپاره چې پرتاسو رحم وکړی شي). مطابق ورته غوږ نیول.
- د قرآن کریم د ځینو نومونو یادونه لکه: الذکر، الفرقان او: الکتاب.
- په قرآن کریم عمل کولو ته هڅول، چې اوامرو یې پر ځای شي او له نواهیو ځخه یې ډډه وشي.



پوښتنې:

س۱: هغه کوم کتاب دی چې الله جل جلاله په خپل رسول ﷺ نازل کړی دی؟

س۲: لاندې تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

- زه مسلمان یم، کتاب مې .....کریم دی.
- رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې .....زده کړي او نورو ته یې وښیي).



الله هغه ذات دی چې مونږ ته يې روغتيا او امن راکړی دی (۱۹).[24]

الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ﴾

(بېشکه هم دغه الله ښه روزي ورکوونکی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی).

[الذاريات سورت: 85 آيت].

نو پر ما واجب دي چې د هغه الله شکر ادا کړم چې ماته يې هر څه راکړي دي.

24- د لوست موخې:
- زده کوونکی په دې خبره دليل ورانده کړی شي چې الله جل جلاله روزي ورکوونکی دی.
- د الله پر هغو لويو نعمتونو شکر ادا کړي چې ورکړي يې دي.



پوښتنې:

س۱: موږ ته چا هر څه راکړي دي؟

س۲: د الله تعالی له نعمتونو څخه د دوو نومونه واخله.

س۳: لاندې تش ځایونه ډک کړه:

- مسلمان په هر نعمت د خپل رب شکر ادا کوي او وايي:.....
- که الله تعالی پر ځمکه باران ونه کړي نو څه حال به يې وي؟
- کله چې الله تعالی په ځمکه باران واوروي څه حالت يې وي؟

زما دين اسلام دی(۲۵)[25]

د اسلام بنسټ: پدې ګواهي ورکول دي چې له الله پرته بل معبود نشته او محمد د الله رسول دی. له اسلام پرته بل هر دین باطل دی.

الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾

(او څوک چې له اسلام نه غیر(بل) دین غواړي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانیانو څخه دی). [آل عمران سورت: ۸۵] آیت.

نو زه مسلمان یم او له اسلامه پرته بل څه د دین په توګه نه منم.



۲۵- د لوست موخې:
- چې زده کوونکی د اسلام اساس بیان کړی شي.



پوښتنې:

س۱: د اسلام اساس څه شی دی؟

س۲: لاندې تش ځایونه په دې مناسبو کلمو سره ډک کړئ (اسلام، اور)

له .....پرته بل هر دین باطل دی او څوک چې له اسلام پرته پر بل دین مړ شو نو..... ته به ننوځي.

س۳: د دې خبرې دلیل وو ایه چې الله تعالی له اسلام پرته بل دین نه قبلوي.

هغه ځایونه په نښه کړه چې مسلمان په کې تشهد و ایي:

( ) په اذان کې، ( ) د ډوډۍ پر مهـــال،

( ) له اوداسه نه وروسته، ( ) د پرنجي نه وروسته.

زما پيغمبر محمد ﷺ دی (۲۹)[26]

چا چې د رسول الله ﷺ اطاعت وکړ جنت ته به داخليږي.

چا چې د رسول الله ﷺ نافرماني وکړه دوزخ ته به داخليږي.

نو پر ما واجب دي چې د رسول الله ﷺ سره محبت وکړم او پيروي يې وکړم.



۲۶- د لوست موخې:
- زده کوونکی دا بيان کړی شي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره محبت کول د هغه په اطاعت او پيروی سره کيږي.
- دا بيان کړی شي چې چا د رسول الله صلى الله عليه وسلم پيروي وکړه جنت به داخليږي او چا يې چې نافرماني وکړه دوزخ ته به داخليږي.
- له هغه څه نه ډډه وکړي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له امر څخه يې نافرماني کيږي.



پوښتنې:

س: لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

چا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړهغه به ..... ته داخل شي او چا يې چې نافرماني وکړه هغه به ..... ته داخل شي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خویونو څخه ریښتینولي.....دي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نوم له اوریدلو سره څه و ایې؟

عنوان: درسي نصاب، فقه، لومړۍ سويه

لنډه کتنه: دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کونکو لپاره د تعليمي نصاب اصلاح شوی لنډيز دی چې په بېلابېلو سويو ويشل کيږي، په دې کې يو مضمون فقهي ته ځانګړی شوی چې دولس (۱۲) سويې لري. هغه اړين موضوعات او مسائل چې په لومړۍ سويه کې راوړل شوي دي په لاندې ډول دي:

د طهارت معنا او د مثالونو سره د اوبو د پاکوالي په اړه وضاحت.

د اودس طريقه

په اسلام کې د لمانځه د حيثيت په اړه خبرې، د هغې د مشروعه طريقې بيان او د هغه څه يادونه چې لمونځ باطلوي.

لومړۍ سوبه

لومړی لوست (۲)[27] پاکوالی (طهارت) (3)[28]

پاکوالی واجب دی او الله تعالی پرې مورِ ته امر کړی دی.



- د حاجت له رفع کولو وروسته پر ما واجب دي چې د تشو او ډکو متیازو د راوتلو ځایونه په پاکو اوبو سره ستره کړم.
- له پاکوالي څخه (یو) اودس دی، نو پر ما واجب دي چې د لمانځه نه مخکې په پاکیزه اوبو سره اودس وکړم.[29]
- د بدن، جامو او د لمانځه له ځای څخه په اوبو سره نجاست لرې کول له پاکوالي څخه دي.

۲۷- ښوونکي ته!

د مثالونو په وړاندې کولو سره د پاکو اوبو معنی بیانول.

- د کاپو او کاغذ په کارولو سره د وړوکي او غټ اودس ماتي له ځای څخه نجاست لرې کول.

- زده کوونکي هڅول چې د ناپاکۍ د لرې کولو لپاره کېن لاس وکاروي.

- پر هغو آیتونو استدلال کول چې په طهارت دلالت کوي.

- د قضای حاجت (ځای ته د تللو لپاره) د دې دعا تذکیر: (بسم الله، اللَّهمّ إنّي أعوذُ بك مِن الخبُث والخبائث). یعني (د الله په نوم، ای الله زه پرتا له نر انو او ښځینه شیطانانو پناه نیسم) دا حدیث بخاري په کتاب الوضوء: (باب ما یقال عند الخلاء) کې په ۱۴۲ شمیره راوړی دی، او د (بسم الله) د زیادت په اړه وکورئ: فتح الباري ۱/۲۴۴، همدا رنګه د حاجت (ځای څخه د راوتلو پر مهال) د دې دعا تذکیر (غفر انک) ابو داود په کتاب الطهارة کې په: باب ما یقول الرجل إذا خرج من الخلاء) کې په ۳۰ شمیره رو ایت کړی دی.

۲۸- د لوست موخې:

زده کوونکی وکولای شي د هغو اوبو څرنګوالی تشریح کړي چې پاکوالی رامنځته کوي.

- هغه کړنې وښیي چې د حاجت د رفع کولو نه وروسته پې کول واجب دي.

- هغه ځیزونه وښیي چې د لمانځه پر مهال تري نجاست لرې کول واجب دي.

۲۹- پاکیزه اوبه لکه د سیندونو، دریابونو او باران اوبه دي.



پوښتنې:

س۱: (√) او (×) علامې په مناسبو ځایونو کې وکاروئ:

لمونځ بیا اودس ( ) اودس بیا لمونځ ( )

س ۲: لاندې تش ځای ډک کړئ:

زه په پاکو.....سره اودس کوم.

س۳: د هغه څه لاندې کرښه راکاږئ چې ناپاکه جامې پرې پاکیږي:

اوبه ( ) خاوره ( )

س۴: لاندې جملې ولیکئ:

- د تشو او ډکو متیازو د راوتلو ځایونه په پاکیزه اوبو سره پاکوم.

- .....

- .....

- د لمانځه لپاره په پاکیزه اوبو اودس کوم.

- .....

- .....

- په پاکو اوبو له اودس کولو پرته لمونځ نه صحیح کیږي .

- .....

- .....

- په ناپاکه ځای کې لمونځ نه کوم.

- .....

- .....

- د لمانځه لپاره له جامو، بدن او د لمانځه له ځای څخه نجاست لرې کوم.

- .....

- .....

دویم لوست (۵)[۳۰]

د اودس طریقه

په زړه کې د اودس نیت کوم او بیا لاندې کارونه کوم:

- - (بسم الله) وایم.
- درې ځلې لاسونه وینځم.
- خولې او پوزې ته درې ځلې اوبو اچوم.
- مخ مې درې ځلې وینځم.
- د ګوتو له څوکو څخه تر څنګلو پورې دواړه متې درې ځلې وینځم.
- سر له دواړو غوږونو سره یو ځل مسح کوم.
- دواړه پښې تر ښنګرو پورې درې ځلې وینځم.



۳۰- ښوونکي ته!
دا لوست په لاندې ټکو کې تشریح کړي.
- له ټولګي څخه د باندې د زده کوونکو وړل.
- د زده کوونکو په وړاندې عملي اودس کول چې ټولوزده کوونکو ته ښوونکی د اودس کولو پر مهال ښکاره شي.
- د عملي اودس پر مهال ښوونکی د هر غړي د وینځلو طریقه ورښيي او دا چې ترکوم ځایه پورې وینځل کیږي.
- ځینو زده کوونکو ته وظیفه ورکول چې د نورو ملګرو په مخکې عملي اودس وکړي.
- ښوونکی له ځینو زده کوونکو غواړي چې د هر غړي اندازه وښيي چې په اودس کې پې وینځل واجب دي.
- ټول زده کوونکي د ښوونکي په مخکې عملي اودس کوي چې ښوونکی ډاډه شي چې ټولو اودس زده کړی دی.
- ښوونکي ته د لوی ثواب زیری چې زده کوونکو ته د اودس کولو طریقه ورزده کوي، ځکه چا چې نورو ته یو څه ورزده کړل نو هغه ته پې د تر سره کوونکي په څېر اجر دی.

د اودس عملي طريقه (۷)[۳۲]



پوښتنې:

س۱: د اوداسه اعمال د مناسب عدد په کارولو سره ترتيب کړئ.

مخ وينځم.

خوله او پوزه وينځم.

پښې تر ښنګرو پورې وينځم.

سر له غوږونو سره مسح کوم.

دواړه مټې تر څنګلو پورې وينځم.

دواړه لاسونه وينځم.

۳۱- ښوونکي ته!

- زده کوونکي پوهول چې په اوداسه کې د هر غړي وينځل يو ځل واجب دي او بشپړ عمل دا دی چې دري ځلې ووينځل شي.

- زده کوونکي هڅول چې له اودس نه وروسته د ويلو دعا په يادو زده کړي چې: (أَشْهَد أن لا إله إلّا الله وحدَه لا شَريكَ له، وأشهد أنَّ محمَّداً عبدُه ورسولُه) يعنې زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل بر حق معبود نشته، هغه يو دی او شريک نه لري او پدې چې محمد د الله بنده او د هغه رسول دی). (دا حديث) أحمد رو ايت کړی دی (۲۶۵/۳)، او ترمذي په ۵۵ شمېره داسې رو ايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: چا چې اودس وکړ او بيا يې وويل: (أَشْهَد أن لا إله إلّا الله وحدَه لا شَريك له، وأشهد أنّ محمَّداً عبدُه ورسولُه، اللَّهمَّ اجْعَلني مِن التَّوابينَ واجعَلني مِن المتَطَهِّرين، فُتِحَت له أبوابُ الجنَّة الثَّمانِيَة يَدْخُل مِن أيِّها شاءَ" «يعنې زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته، هغه يو دی او شريک نه لري او پدې ګواهي ورکوم چې محمد د الله بنده او رسول دی، ای الله! ما له توبه کوونکو څخه وګرځوه او ما له پاکيزه وو څخه وګرځوه، (نو چا چې دا دعا وويله هغه ته به) د جنت اته دروازې خلاصې شي او له هرې يوې چې وغواړې ترې ننوتلی شي».

- زده کوونکي هڅوي چې د اوبو له نعمت څخه ساتنه وکړي او اسراف پکې ونه کړي.

۳۲- د لوست موخې:

- زده کوونکي د هغو اوبو څرنګوالی وښيي چې اودس پرې کېږي.

- د نيت ځای وښيي.

- اودس په سمه توګه عملي کړی شي.



س۲: جملات زیر را بنویسید:

- قبل از شروع وضوء می گویم: بسم الله.

- .....

- .....

- با آب پاک وضوء می کنم.

- .....

- .....

- هنگام وضو گرفتن در شستن اعضای وضو ترتیب را رعایت می کنم.

- .....

- .....

- هیچ یک از اعضای وضو را نمی گذارم که آب به آن نرسیده است.

- .....

- .....

پسرم! وضوء بگیر و برخیز برای ادای نماز
**
و برای پروردگارت نماز بخوان رضایتش را کسب می کنی
هرگاه الله از مسلمانی راضی گردد
**
در طول زندگی خوشبخت می شود

و بعد از پایان وضوء می گویم:

(أشهَد أن لا إله إلّا الله وَحْدَه لا شَريكَ له، وأشهد أنَّ محمَّداً عبدُه ورَسولُه).

گواهی می دهم که معبود برحق جز الله یگانه و بی شریک نیست، و گواهی می دهم که محمد بنده و فرستادهٔ اوست.

درس چهارم[۳۳]

نماز های فرض[۳۴]

نماز دومین رکن اسلام بعد از شهادتین است.

نماز های فرض در شبانه روز پنج نماز می باشد، و آنها:

- فجر (دو رکعت)۲
- ظهر (چهار رکعت) ٤
- عصر (چهار رکعت) ٤
- مغرب (سه رکعت) ۳
- خفتن (چهار رکعت) ٤



۳۳- برای آموزگار:
- توضیح اینکه ارکان اسلام پنج است.
- توضیح اینکه نماز در عدد پنج، اما در ثواب پنجاه است. صحیح البخاری (کتاب الصلاة) شماره (۳٤۹) را مراجعه کنید.
-تشویق دانش آموزان به ادای نماز در وقت آن؛ زیرا رکن اسلام، و سبب ورود به بهشت، و ترک آن یکی از اسباب ورود به جهنم می باشد، از بریده رضی الله عنه روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمودند: عهد و پیمان بین ما و آنها نماز است، پس هر که آن را ترک کند کافر می شود. به روایت ترمذی، ابواب الایمان، باب: آنچه در مورد ترک نماز آمده، شماره (۲٦۲۱).

۳٤- اهداف درس:
- بیان جایگاه نماز در اسلام توسط دانش آموز.
- ذکر نماز های فرض در شبانه روز توسط دانش آموز.
- تحدید تعداد رکعت های هر نماز توسط دانش آموز.





پوښتنې:

س۱: د اسلام له ارکانو څخه نابښپړ شوی رکن بشپړ کړئ:

شهادتین .....زکات، روژه- حج.

س۲: د ورځې له پیل څخه لمونځونه په ترتیب سره ذکر کړه

ماخوستن، ماسپښین، مابنام، مازدیګر، سهار.



س۳: د هر لمانځه او د رکعتونو شمیره یې سره ونښلوه.

سهار ماسپښین مازدیګر ماښام ماخوستن

س۴: په قلم سره سم ځواب ونښلوه.

هره ورځ په لمانځه سره پیلوم:

ماسپښین سهار.

س۵: هغه لمونځونه وټاکه چې څلور رکعتي وي.

سهار ماسپښین مازدیګر ماښام ماخوستن

س۶: له هغه لمانځه نه کړۍ تاوه کړه چې د رکعتونو شمېر یې درې وي.

سهار، ماسپښین، مازدیګر، ماښام، ماخوستن.

س۷: هغه لمونځونه سره وصل کړه چې د ورځې لخوا ادا کيږي.

مابنام، ماسپښين، مازديګر، ماخوستن، سهار.

س۸: هغه لمونځونه په نښه کړه چې د شپې مهال ادا کيږي.

مابنام، ماسپښين، مازديګر، ماخوستن، سهار.

س۹: لاندې جملې وليکه:

لمونځ له خپل ټاکلې وخت څخه نه وروسته کوم.

- .....

- .....

لمانځه ته پاملرنه جنت ته د داخليدو سبب دی.

- .....

- .....


- کله چې په جومات کې لمونځ کوم نو د لمانځه په ټولو حرکتونو کې د امام پيروي کوم.

- .....

- .....

د لمانځه طریقه (۱۲)

لمونځ څنګه کوي؟



◀ ۱ - قبلې ته مخ کوم.

◀ ۲ - تحریمه تکبیر کوم او وایم:

(الله أكبر)، په داسې حال کې چې د سجدې ځای ته ګورم.

◀ ۳- فاتحه لولم، بیا له قرآن کریم څخه یو څه لولم چې حفظ کړې مې دي.

◀ ۴- تکبیر وایم رکوع کوم او په رکوع کې وایم:

(سُبْحان رَبِيَّ العَظِيم) درې ځلې.

◀ ۵- له رکوع نه پورته کیږم، او وایم:

(سَمِعَ الله لِمَن حَمِدَه، رَبَّنا ولك الحمْدُ). (یعنې الله د هغه چا (وینا) واورېده چې هغه یې وستایه، ای زمور ربه! تالره ستاینه ده).

۳۵- ښوونکي ته!

د لوست تشریح لاندې تکي رانغاړي:

- ښوونکی له زده کوونکو سره جومات یا مصلی ته ځي.
- د زده کوونکو په مخکې په عملي توګه لمونځ کوي او هر یو رکن ورته بیلابیل تشریح کوي او دا چې څه په کې ویل کیږي.
- ښوونکی له ځینو زده کوونکو غواړي چې د خپلو ملګرو په وړاندې عملي لمونځ وکړي او غلطیاني یې ورته اصلاح کوي.
- ښوونکی یو ځل بیا عملي لمونځ کوي چې زده کوونکي یې ښه زده کړي.
- ټول زده کوونکي باید عملي لمونځ وکړي چې ښوونکي یې له سم ادا کولو ډاډمن شي، پدې کې ښوونکي ته د لوی اجر زیری دی: ځکه چې چا یو چاته علم ورزده کړ نو هغه ته یې د تر سره کوونکي په څېر اجر دی.

۳۶- تشریح: ۱- سجده په اوو غړو کیږي چې عبارت دي له: تندی سره له پوزې، دواړه لاسونه (ورغوي)، دواړه زنګونونه او د دواړو پښو (د ګوتو) سرونه.

۲- د لومړي او اخري تشهد لپاره د کښناستو څرنګوالی.

- شاګردانو ته ویل چې د (سُبْحَانَ رَبِي العظيم) او (سبحان ربي الأعلى) درې ځلې تکرارول سنت دي او دا تر ټولو کمه اندازه بشپړ عمل دی.
- په رسول الله صلی الله علیه وسلم د درود ویلو په اړه وضاحت دا دی عامر بن سعد له خپل پلار څخه رو ایت کوي و ایي چې: ما به رسول الله صلی الله علیه وسلم لیده چې نبي او کیږ لورته به یې سلام کړځاوه، تر دې چې د مخ سپینوالی به یې را ته ښکاره شو. مسلم په (۲۸۵) شمیره رو ایت کړی دی.

۳۷- د لوست موخې:

- زده کوونکی وکولی شي چې لمونځ په سمه توګه له ارکانو او واجباتو سره ادا کړي.
- د تکبیر تحریمه پر مهال د لاسونو پورته کولو څرنګوالی تشریح کړي.
- د دې توپیر وکړی شي چې په رکوع او په سجده کې څه ویل کیږي.

◀ ۶ - تکبیر وایم او سجده کوم، په سجده کې وایم:

(سُبْحانَ ربيَّ الأَعْلى) درې ځلې. (یعنې پاکې ده هغه رب لره چې (په هر لحاظ تر هر څه) پورته دی).

◀ ۷ - له سجدې نه د (الله اکبر) په ویلو سره پورته کیږم او برابر کښنم.

د دوو سجدو تر منځه په ناسته کې وایم:

(ربِّ اغفِرْ لي، ربِّ اغفِرْ لي).

(ای ربه! ماته بخښنه وکړه، ای ربه! ماته بخښنه وکړه).

◀ ۸ - د (الله اکبر) په ویلو سره دویمه سجده کوم.

او په سجده کې درې ځلې (سبحان ربی الأعلی) وایم. (یعنې پاکې ده هغه رب لره چې (په هر لحاظ تر هر څه) پورته دی).



◀ ۹ - دویم رکعت ته پورته کیږم او وایم:

(الله اکبر) په دې رکعت کې هم هغه څه کوم چې په لومړي رکعت کې مې کړي دي.

◀ ۱۰ - له دویم رکعت نه وروسته لومړي تشهد ته کینم.

◀ ۱۱ - په پاتې لمانځه کې هغه څه کوم چې په لومړیو دوو رکعتونو کې مې کړي دي (۱۳).

◀ ۱۲ - د لمانځه په پای کې کښنم، وروستی تشهد وایم (۱۴)، او په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود وایم، بیا ښي او کیڼ لور ته داسې سلام ګرځوم:

(السَّلام عَليكُم ورَحمة اللهِ).

۳۸-دوو ورستیو رکعتونو کې یوازې فاتحه لوستل کیږي.

۳۹- په دوه رکعتي لمونځ کې یوازې یو تشهد وي.





پوښتنې:

س١: سم ځواب غوره کړئ:

أ: زه په لمانځه کې ګورم:

☐ چت ته ☐ دیوال ته ☐ د سجدې ځای ته.

ب- په رکوع کې وایم:

☐ سُبحان رَبِّيَ العَظِيم ☐ سُبحانَه رَبِّيَ الأَعْلى.



ج: په رکوع کې خپل لاسونه په:

☐ زنګنونو ږدم ☐ په پنډیو ږدم.

س۲: د (أ) د کالم جملې د (ب) د کالم له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

په سجده کې و ایم.	سُبْحانَ رَبِّيَ العَظِيم
په رکوع کې و ایم.	سُبْحانَ رَبِّيَ الأَعْلى
د دوو سجدو ترمنځ و ایم.	سمع الله لِمَن حَمِدَه
له رکوع څخه د پورته کېدو پر مهال و ایم.	ربِّ اغْفِرْلي
	اللهُ أكبَر

س۳: خالي ځایونه ډک کړئ:

د لمانځه څخه سلام کړځوم او و ایم: السلام

.....

س۴: لاندې جمله ولیکئ:

په پاتې رکعتونو کې هغه کارونه کوم چې په لومړي رکعت کې مې کړي دي.

- .....

- .....

اووم لوست (۱۷)[۴۰]

په رسول الله -ﷺ- درود ویل (۱۸)[۴۱]

په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود عبارت دی له:

(اللَّهمَّ صَلِّ على محمَّد وعلى آل محمَّد، كما صَلَّيْتَ على إبراهِيمَ وعلى آل إبراهِيمَ، إنَّك حَمِيدٌ مجِيدٌ، وبارِك على محمَّد وعلى آل محمَّد، كما باركْت على إبراهِيمَ وعلى آل إبراهِيمَ، إنَّك حَمِيدٌ مَجِيدٌ).

(یاالله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پرکورنۍ رحمت و اوروه، لکه پر ابراهیم علیه السلام او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولې و، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې. یا الله ! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پرکورنۍ برکتونه و اوروه، لکه پر ابراهیم - علیه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولې و، بېشکه ته ستایل شوی او عزتمند یې).

کله ویل کیږي؟

په رسول الله صلی الله علیه وسلم د وروستي تشهد پسې او له سلام نه مخکې درود ویل کیږي.



٤٠- ښوونکي ته!

لمونځ باید په عملي توګه تطبیق شي، د تشهد ځای او پر محمد صلی الله علیه وسلم د درود ویلو ځای پکې وښودل شي.

- د رسول الله صلی الله علیه وسلم له یادولو یا یې د نوم له اوریدلو سره درود ویلو ته د زده کوونکو هڅول، او هغوی ته یې د ثواب په اړه معلومات ورکول، لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: :"مَن صلَّى عَلَيَّ صَلاةً واحِدَةً صلَّى اللهُ عليه عَشْرَ صَلَواتٍ، وحُطَّت عنه عَشْرُ خَطِيئات، ورُفِعَت له عَشْرُ دَرَجات". «چا چې پر ما یو ځل درود وو ایه، نو الله تعالی به پرې لس ځلې درود وو ایي، لس ګناهونه به ترې لرې کړي او لس درجې به ورته پورته کړی شي". دا حدیث نسائي په ۷۹۲۱ شمیره رو ایت کړی دی.

٤١-د لوست موخې:

- زده کوونکي په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ویل له یادو زده کړي.
- په لمانځه کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم د درود ویلو ځای وپېژني.
- په عملي توګه د تشهد لپاره کینې چې په لومړي او دویم تشهد کې د کښاستلو په توپیر پوه شي.





پوښتنې:

س١: لاندې تش ځايونه ډک کړئ:

(اللَّهمّ صَلِّ على محمَّد وعلى آل محمَّد، كما صليت على ..... وعلى آل ..... إنَّك حميد مجيد، وبارِك على محمَّد وعلى آله ..... كما باركت على إبراهِيمَ وعلى آلِ إبراهيم، إنَّك حَمِيد مجيد).

س٢: په لوست کې د پېغمبر انو له نومونو څخه دوه نومونه راغلي دي هغه کوم دي؟

..... او .....



س٣: په لاندې څو ابونو کې له صحیح ځواب څخه کړی تاوه کړئ:

په رسول الله صلى الله عليه وسلم درود ویل کیږي:

أ- د لومړي رکعت نه وروسته

ب- د وروستي تشهد پسې.

اتم لوست (۱۹)[۴۲]

د لمانځه باطلوونکي (۲۰)[۴۳]

لمونځ په لاندې کارونو باطليږي، لکه:

۱- خـــوراک.

۲- څښـــاک.

۳- خبرې کول.

۴- خندا کول.

۵- په تشو متيازو، ډک اودس ماتي او باد وتلو باندې اودس ماتيږي.

۶- زيات حرکت.



۴۲- ښوونکی باید زده کوونکو ته لاندې تکې تشریح کړي: - د لمانځه د ادا کولو پر مهال د زړه حضور (عاجزي). - د لمانځه باطلوونکي او د اودس ماتیدلو معنا څه ده. - په لمانځه کې د زیات حرکت مثالونه کوم دي؟

۴۳- د لوست موخې:

- زده کوونکی وکولای شي د لمانځه باطلوونکي وښيي.
- د اودس ماتیدل او د لمانځه د باطلوونکو شیانو ترمنځ تړاو ورکړي.
- د لمانځه له باطلوونکو څخه ځان وساتي.





پوښتنې:

س1: زده کوونکي په داسې حال لمونځ وکړ چې په خوله کې يې چاکليټ و، هغه يې تېر کړ، نو آيا لمونځ يې صحيح دی کنه؟ اوولې؟

س۲: (خوراک - تشې متيازې - ډکې متيازې - باد)

په تشو ځايونو کې له پورته ځو ابونو څخه يو وليکئ

اودس په .....

او.....وتلو سره ماتيږي.



پوښتنې:

س۳: هغه شکل غوره کړئ چې د لمانځه یو باطلوونکی پکې وي:

خندا	د سترګو پټول	پرنجی	خبرې کول
خوراک	تنفس	څښاک	

س۴: لاندې کلمې ولیکئ:

- زه د لمانځه له باطلوونکو څخه ډډه کوم.

- .....

- .....

- کله چې د یو باطلونکي له امله زما لمونځ باطل شي نو د لمانځه راګرځول راباندې واجب دي.

- .....

- .....

- د پاکۍ په حالت کې لمانځه ته راځم.

- .....

- .....

تشهد (۱۶)[۴۵]

(التَّحِيّات للهِ، والصَّلوات والطَّيِّبات.

«ټول ژبني، بدني، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي.

السَّلامُ عليك أيُّها النَّبيُّ ورحمَةُ اللهِ وبَركاتُه.

سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې پر تا وي ای پیغمبره.

السَّلام عَلَيْنا وعلى عِبادِ اللهِ الصّالحين.

سلام دې وي پر مونږ او د الله پر نیکو بنده ګانو.

أشهد أن لا إله إلّا الله، وأشهَد أنَّ محمَّداً عبدُه ورَسولُه).

ګواهي ورکوم چې له الله تعالی نه پرته بل هیڅوک د عبادت ور نشته او ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی».

تشهد کله ویل کیږي؟

تشهد د لمانځه له دویم رکعت څخه وروسته ویل کیږي او لومړی تشهد بلل کیږي، او د لمانځه له وروستي رکعت څخه وروسته ویل کیږي او اخري تشهد بلل کیږي.

٤٤- ښوونکي ته:
- د تشهد پر مهال د ګوتې د پورته کولو څرنګوالی: (چې د ښي لاس کچې او وړسې ګوتې بندې کړي او د غټې او مسواک ګوتو سرونه سره ونښلوي چې لکه د اوسپنې په څېر کړي ترې جوړه شي او په مسواک ګوته اشاره کوي.
- د کوچنیانو د ذهني سویې سره مناسب ورته د تشهد الفاظ تشریح کول.
- د دې خبرې وضاحت چې په دوه رکعتي لمونځونو کې یوازې یو تشهد وي، د درې رکعتي او څلور رکعتي لمونځونو پر خلاف.

٤٥- دلوست موخې:
- چې زده کوونکی په لمانځه کې د تشهد ځای په نښه کړي.
- تشهد په یادو زده کړي.
- د تشهد لپاره صحیح کیني.





پوښتنې:

س۱: تش ځایونه په لاندې کلمو سره ډک کړئ:

(دویم - لومړي - وروستي)

- اول تشهد له ..... رکعت څخه وروسته ویل کیږي.

- وروستی تشهد له ..... رکعت څخه وروسته ویل کیږي.



س۲: هغه لمونځونه چې دوه تشهدونه پکې ویل کیږي په یو ګروپ او هغه چې یوازې یو تشهد پکې ویل کیږي په بل ګروپ کې راغونډ کړئ.

دوه تشهده

یو تشهد

د ما خوستن لمونځ

د مازدیګر لمونځ

د ماښام لمونځ

د سهار لمونځ

د ماسپښین لمونځ

س۳: لاندې جملې ولیکئ:

- زه د لمانځه په ټولو کړنو کې د امام پیروي کوم.

- .....

- .....

- زه د لمانځه په پیل کې تحریمه تکبیر وایم.

- .....

- .....

فهرست

لومړۍ سویه	3
سریزه	3
لومړی لوست(۴)	5
دویم لوست (۶)	7
څلورم لوست (۱۰)	9
د توحید نصاب	13
دریم لوست(8)	14
پنځم لوست: (14)	15
شپږم لوست (16)	16
اووم لوست (۲۰)	17
اتم لوست (۲۲)	19
نهم لوست (۲۶)	21
لسم لوست (۳۰)	23
لومړۍ سویه	32
لومړی لوست (۲)	32
دویم لوست(۵)	34
دریم لوست (۶)	35
څلورم لوست: (۸)	37
پنځم لوست (۱۰)(۱۱)	41
اووم لوست (۱۷)	45
اتم لوست (۱۹)	48
شپږم لوست (۱۵)	51